Women's Peace & Humanitarian Fund
A United Nations & Civil Society Partnership

**د پروپوزلز یعني وړاندیزونه لپاره بلنه**
**بې ځایه شویو افغانو ښځو او ځوانو نجونو ته سیمه ایز غبرګون**
**وړتیا لرونکي هیوادونه: افغانستان، پاکستان، تاجیکستان**

| | |
|---|---|
| **د بلنې پیل:** | 22 اپریل 2022 |
| **د وړاندیزونو د تحویل وروستۍ نېټه:** | 24 جون 2022 |

## 1. د پروپوزلونو د بلنې موخې او مقصد

د پروپوزلز د بلنې لویه موخه خو د ښځو او نجونو د مدني ټولنې هغو سازمانونو ته ګرانټ یعني کومک ورکول دي چې **په زوره بې ځایه شویو افغانو ښځو او ځوانو نجونو کښې ټولنیز- اقتصادي پیاوړتیا، ګډون او مخکښې ته وده ورکوي** ی په افغانستان کښې دننه (دننه بې ځایه شویو، بېرته ستونېدونکو) یا په ګاونډیو هیوادونو پاکستان او تاجیکستان کښې (کډوالي، پناه غوښتونکي).

د پروپوزلونو بلنه په تېره د **WPHF د اغېزې په 6 برخې کښې کومک کوي: چې په زورکي ډول د بې ځایه شویو ښځو او ځوانو ښځو ټولنیز- اقتصادي پیاوړتیا، ګډون او مخکښې ته وده ورکوي**. دا په لوی سر کښې د پرامن او د جنسیتیبرابرۍ ټولنو او د ښځو، امن او خوندیتوب په هکله د ملګرو ملتونو له 1325 پرېکړې لیک سره سمون خوري.

د پروپوزلونو بلنه د [Funding Window on Forced Displacement](#) برخه ده چې د [United Nations Action Network](#) لخوا سمبالېږي او د جرمنې د [Women's Peace and Humanitarian Fund (WPHF) on Forced Displacement](#) پورې اړونده ده. د ملګرو ملتونو د ښځو لپاره امن، او انساني فنډ او په زوره بې ځایه شویو لپاره ایکشن نټ ورک په هکله د نورو معلوماتو لپاره لطفاً ضمیمه 1 وګورئ.

## 2. د سیمې او هیواد په کچه د پروپوزلونو د بلنې شرایط

په افغانستان کښې له جګړو او د طالبانو زورور کېدلو سره بېځایه کېدلو کښې زیاتوالی راغلی دی. یو این ایچ سي ار د اټکل له مخې تر 515,000 زیات افغانان کېدلای سي چې تازه بېځای شوي وي او تر پولو پوري وتلي وي چې په احتمالي توګه بدترې صحنې به وي. دغه نوي راغلونکي به له هغو 2,2 کډوالو او پناه غوښتونکیو سره یوځای شي چې له افغانستان څخه ګاونډیو هیوادونو ته تللي دي. پر کډوالو او پناه غوښتوکیو سربېره 3 میلیونه داسي افغانان هم شته چې حیثیت یې ناڅرګند دی په ګډون د هغو چې اسناد نه لري او په ګاونډیو هیوادونو کښې مېشت دي.

د بې ځایه شویو افغانو ښځو او نجونو ټولنیزه -اقتصادي پیاوړتیا او مخکښې د افغانستان د کړکیچ او په سیمې کښې یې د اغېزو کابو کولو لپاره اړین دی. د زورکي بېځایه کېدلو په حالت کښې د افغانې مېرمنې او نجونې مهمې عاملانې او بدلون راوستونکې دي چې د دغسې سخت حالت سمبالول او د یوې ټولګډې او پرامنه ټولنې راوستل غواړي. د خپلو کورنیو په خوندیتوب سره دوی په اقتصادي پیاوړتیا راولي، دوی په خپلو خلکو کښې ټولنیز پیوستون راولي، او دوی د برابرۍ پر بنسټ ولاړې د پرېکړو د یوه میکانیزم غوښتنه کوي.

**افغانستان**

افغانستان د نړۍ پر کچې د بې ځایه شویو یوه تر ټولو پېچلې بېړنه جوړه شوې ده. په سپټمبر 2021 کښې په هیواد کښې دننه د بېځایه شویو شمېر 5.5 میلیونو ته رسېدلو. نیږدې 80 سلنه تېښتې ته اړ افغانان ښځې او ماشومان دي چې د توپیري چلند او تاوتریخوالي له زیاتېدونکي خطر سره مخامخ دي. بې ځایه شوې ښځې او نجونې له نادرو ستونزو سره مخامخ دي په یوه داسې هیواد کښې چې په 2019 کښې د جنسیتیودې انډکس کښې په 167 هیوادونو کښې یې 166 ځای و او په 2021 کښې د مېرمنو، امن او خوندیتوب په جهاني انډکس کښې (په 170 هیوادونو کښې یې 170 ځای و). د طالبانو واکمنې نور هم بېځایه کول زیاتوي ځکه چې د مېرمنو او نجونو بنسټیز ټولنیز او اقتصادي له خطر سره مخامخ دي او په

تېرو شلو کالو کښې چې د جنس د برابرئ کومې کامیابئ ترلاسه سوې وې اوس هغه له خطر سره مخامخ دي – او لا بېرته پرشا هم ګرځول شوې دي. د افغانستان د جنسیتیبرابرئ رغاونه هغه وخت ویجاړه کړ شوله چې د مېرمنو چارو وزارت یې له منځه یووړلو او اوس په حکومت کښې یوه ښځه هم نسته له سپتمبر 2021 راهیسته په حکومت کښې ټول سړیان دي.

### پاکستان

پاکستان له افغانستان سره یوه اوږده ترینه پوله لري، اوس مهال د 1.4 میلینو راجسټر شویو افغان کډوالو کوربه دی[1]. په اګست 2021 کښې د طالبانو واکمنېدلو او په افغانستان کښې د جګړې د زیاتېدلو له لاسه پولې ته نیژدې خیبر پښتونخوا او بلوچستان ایالتونو ته زیات کډوال ورغلي دي. د بندیزونو د چاپېریال او سورئ سورئ پولې له لاسه په پاکیستان کښې د افغانانو ریښتوني شمېره ناځرګنده ده چې دا یو بل چیلنج جوړوي کله چې له ستونزو سره مخامخ افغانانو ته بشري مرسته ورکول کېږي. په پاکیستان کښې افغانان له داسي ستونزو سره مخامخ دي چې ګڼ اړخونه لري. د حکومت او نورو لوریو لخوا کډوالو ته خدمتونه برابر شوي دي، د کډوالو په کمپنو او مېشت ځایو نو کښې د تعلیم، روغتیا او مسلکي تربیت اسانتیاوې برابرې شوې دي. خو بیا هم دغه خدمتونه په وړتیا او اغېز کښې محدود دي او د افغان کډوالو اړتیا تر دې ډېر زیاتې دي چې دغه خدمتونه یې ور پوره کولای سي. د دغسې یوې صحنې ځرګنده پایله یې دا ده چې هغوی د بې کسئ سخت احساس کوي. پر بې ځایه شویو افغان ښځو او نجونو باندې یې خورا بده اغېزه کړې ده ځکه چې هغوی په خپل منځ کښې او له کوربنو سره د اړیکو جوړولو کومې لارې چارې نه لري او پایله یې دا راوځي چې هغوی له یوازیتوب سره مخامخ کېږي او د بې برخي توب احساس کوي. دوی د کټې وټې او اقتصادي کار په لاره کښې هم له سختو کلتوري او سیاسي خنډونو سره مخامخ وي. بل دا چې د دوی بېلابېلې پېژندنې لکه نژاد، معلولیت، بې ځایي توب، واده او جنسیتیغوراوی هم په کمزوري ځای کښې دروي.

### تاجکستان

تاجکستان له افغانستان سره 1,344 کیلو میټره ګډه پوله لري، او دواړه هیوادونه یو ګډ بډای تاریخ، ژبه او مذهب هم سره لري. په اګست 2021 کښې د طالبانو واک ته رسېدلو سره سم تاجکستان په خپلې خاورې کښې 100,000 افغان کډوالو منلو ژمنه وکړله. خو د ګډ خوندیتوب تړون سازمان له غونډې راوروسته په دغو خبرې کښې بدلون راغلی دی ځکه چې د کامي سلامیتا پوښتنې یې راپورته کړې وې او پر پولې باندې یې سخت بندیزونه ولګول چې له افغانستان څخه ورتګ بېخي ګران شوی دی. پر دې سربېره حکومت ویلي دي چې په جنوبي تاجکستان کښې به د کډوالو لپاره خوندي سیمې جوړې کړې چېرته چې به کډوال او د قدرتي ناورینونو ځپلي ځای پر ځای کړ شي، د بېړنی حالت د کمېټي تر سوري لاندې. د بهرنیو چارو وزیر له خولې اوس په تاجکستان کښې 15,000 افغان کډوال مېشت دي، خو کوندیا ده چې دغه شمېر به نور زیات شي. زیاتره کډوال اوس په وحدت (77%) او رودکي ولسوالیو (16%) کښې مېشت دي. ښځې او ماشومان د 68% کډوال دي. ځینه سازمانونه چې له افغان کډوالو سره کار کوي وایي چې افغاني ښځې، په ځانګړې توګه هغه چې کورونه وریه غاړې دي، زیات کومک او مرستې ته اړتیا لري (لکه د کټې وټې کارونه، روغتیا، پاکي سوترایي، د ماشومانو پالنه، د جي بي وي مخنیوی وغیره). دا معلومول کوندیا نه دی چې ګانده به تاجکستان څو نور افغان کډوال مني، خو دا ځرګنده ده چې اوس کوم کډوال هلته مېشت دي هغوی او کوربه ولسونه کومک ته اړتیا لري چې د خدماتو وړاندي کول او ورته لاسرسی باور کړ شي او په ټوله کښې جنسیتیبرابري رامنځ ته کړ شي.

## 3. لید (ځای او مهال)

**WPHF به په افغانستان، پاکستان او تاجیکستان کښې له هغو پروژو سره مالي مرسته کوي چې وړتیا لري په لاندینیو ټاکل شویو ځایونو کښې . پروژه پکار ده چې په یوه هیواد کښې وي. هغه پروژې چې په ګڼو هیوادونو کښې نه به منل کېږي.**

### افغانستان

- په دغه هیواد کښې ټولې سیمې د منلو وړ دي.

### پاکستان

- بلوچستان: نیمه ښاري سیمې لکه پشین، کلا عبدالله، کوټه، چمن او چاغي
- خیبر پښتونخوا: پېښور، هري پور، نوښار، مانسهره، کوهاټ، مردان، ایبټ اباد، ضلع خیبر، باجوړ او کورمه

---

1 https://www.unhcr.org/pakistan.html

- پنجاب: راولپنډ، اټک، چکوال، لاهور
- سندھ: کراچۍ

**تاجیکستان**

- دوشنبه
- وحدت
- رودکي
- ختلان سیمه
- تر جمهوریت لاندې سیمې او ولسوالۍ

CSOs زیات تر زیاته د 2 لپاره درخواست ورکولای سي.

## 4. وړتیا

### 4.1 څوک فنډ لره درخواست ورکولای سي او ترلاسه کولای یې سي

د نړۍ والي [2]، ملي، سیه ایز یا ځایي/ولسي کچې د مېرمنود حقونو، د ځوانانو د حقونو، یا مدني ټولني سازمانونه چې د بې ځایه شویو ښځو او نجونو لپاره مثل شوې کاري سابقه لري د درخواست ورکولو وړتیا لري. د کومو سازمانونو مخکښان چې پخپله بې ځایه شوي کسان وي هغو ته په ټینګار سره سپارښتنه کېږي چې درخواست ورکړي.

| |
|---|
| **د ښځو د حقونو سازمان:** د سازمان په رسمي هوډ/لید کښې باید د ګټو/ بېلابېلو توپیرونو ورکولو وینا څرګنده وي او باید د جنسیتیبرابري او د ښځو حقونو ته وده ورکوي. د سازمان موخه هرومرو باید دا وي چې د بنسټیزو بېلابېلو/سیستمونو/جوړښتونو، په ګډون د پلارواکي او جنډر یعني جنسیتي واک محرکات یې موخه وي او د هغو د بدلولو لپاره کار کوي. <br><br> **د ښځو تر مشرۍ لاندې سازمان:** هرومرو به یې مشري یوه ښځه کوي چې د دغه سازمان ډایریکټره/مشره به وي. <br><br> **د ځوانانو سازمان:** د دغسې سازمان رسمي هوډ/لید دي هرومرو داسې وي چې د ځوانو ښځو او سړیانو ضد توپیري چلند بېلابېلو ډولونو چاره کول پکښې څرګند وي، په تېره بیا د جنسیتي توپیر ختمول، او جنسیتي برابرۍ لپاره د ملګریو په توګه باید برخه اخلي. <br><br> **د ځوانانو تر مشرۍ لاندې سازمان:** بویه چې مشر یې یو داسې کس وي چې عمر یې د 18 تر 19 کالو پورې وي او د سازمان ډایریکټر/مشر وي. <br><br> **هغه سازمان چې مشري یې یو بېځایه شوی (کډوال، ای ډي پي، راستون شوی یا پناه غوښتونکی) کس کوي:** باید ډایریکټر/مشر یې یو داسې کس وي چې کډوال وي یا بېځایه شوی وي. |

لاندیني سازمانونه د WPHF فنډ اخیستلو لره د درخواست ورکول وړتیا **نه** لري:

- دولتي اژانسونه یا اداري؛
- د ملګرو ملتونو اژانسونه یا په یوه هیواد کښې د ملګرو ملتونو ټیم؛
- پرایوېټ یعني شخصي کسان؛
- د خصوصي سیکټور اداري؛
- پوهنتونونه، تینک ټانکونه یا تعلیمي یا څېړنیزې اداري
- هغه مخکښ- سازمانونه چې په کار په هیواد/سیمې کښې نه وي راجستر سوي؛
- هغه سازمانونه چې د ګټو هیوادونو مداخلت وړاندیز کوي، یا په یوه داسې هیواد کښې وي چې وړتیا نه لري؛

### 4.2 ایا د درخواست ورکولو لپاره موږ به اړتیا لرو چې په خپل هیواد کښې د یوه سازمان په توګه رجسټر شوي یو؟

[2] Only if registered at the national level.

هو، مخکښ درخواست ورکونکي اړتیا لري . مخکښ درخواست ورکونکی سازمان اړ دی چې هرومرو د پروژې د تطبيق کېدلو په وړتیا لرونکي هېواد کښې له اړوندې واک لرونکي ملي اداري سره راجسټر شوی وي او له درخواست سره د قانوني رجسټریشن ثبوت راوړي. په یاد لرئ د شمولیت مادې د قانوني حیثیت ثبوت نه شي کېدلای. **که د پروپوزلونو تر بلنې له پیل څخه 18 میاشتې وړاندې د مخکښ درخواست ورکونکي قانوني رجسټریش پای ته رسېدلی وي، نو بیا لطفاً هغه تر غوړلاندې درخواست سره تحویل کړئ.**

شریک- تطبیقونکي یا د شریکانو مجموعه نه. شریکو تطبقونکي ملګرو لره قانوني رجسټریشن وړاندې کول پکار نه دی، فقط مخکښ درخواست ورکونکي سازمان لره پکار دی

**4.3. ایا موږ د نورو سازمانو کنسورشین یعني مجموعي یا شراکت سره درخواست ورکولای سو؟**
هو . د ښځینه حقنو نورو سازمانونو، د ځوانانود حقونو سازمانونو، د ښځو یا ځوانانو د مدني ټولنې سازمانونو سره یوځای د شریکو پروژو هڅونه کېږي. د ګډو پروژو لپاره، فقط مخکښ سازمان لره پکار ده چې د قانوني وړتیا معیار پوره کړي.

د ګډو پروژو لپاره، پکار ده چې د هر یوۀ سازمان مسولیتونه جلا جلا په څرګند ډول د درخواست په چوکاټ کښې بیان کړل شي.

**4.4. ایا موږ یوه روان یا موجوده نوښت یا پروژې لره د فنډ لپاره درخواست ورکولای شو؟**
هو . WPHF د هغو روانو پروژو لپاره پروپوزلونه مني چې فنډنګ یې د نورو ډونرانو لخوا شوی وي. خو د برخې اخیستلو اضافي نرخ باید په څرګند ډول بیان شوی وي.

**4.5. ایا زما سازمان به هرومرو د پروژې په بودیجې کښې برخه اخلي؟**
نه . د مدني ټولنې سازمانونه اړ نه دي چې بودیجې کښې برخه واخلي.

## 5. د فنډنګ بڼه او غوښتنې

د پروپوزلونو بلنې سره سم WPHF له دوو لارو درخواستونه مني – ادارتي / مرکزي فنډنګ او پروګرمیټک فنډنګ.

**یو سازمان (مخکښ سازمان یا ګډ تطبیقونکی شریکان) کولای شي یو درخواست ورکړي ادارات فنډنګ لره او/یا پروګرامیټک فنډنګ لره. کوم سازمانونه چې اداراتي او پروګرامیټک فنډنګ دواړو لره درخواست ورکول غواړي هغوی ته پکار ده چې د دواړو سټریمونو یعنې لارو لپاره ځانګړي شوي درخواستونه چې په سیکشن 7 کښې یې یادونه شوې وه په جلا جلا بڼه دوه درخواستونه ورکړي.**

### انسټیټوشنل یعنی اداراتي فنډنګ: سټریم 1 (USD $2,500 - $30,000)

موخه یې دا ده چې په خاص توګه د ښځو حقونو او/یا د ښځو تر مشرئ لاندې د هغو سازمانونه ادراتي وړتیا پیاوړې کړي چې په افغانستان کښې په ځانګړې توګه د هغو ښځو او نجونو لپاره کار کوي چې بېځای کېدلو ته اړایستل شوې وي، چې داسې پروژيي کارونه لري کوم چې د هغو افغانو مېرمنو او ځوانو نجونو لخوا رهبري کېږي چې بېځایه کېدلو ته اړایستل شوې وي او / یا چې بې ځایه شوې افغاني ښځې یا ځواني ښځې پکښې د کارمندانو په توګه په کار ګومارل شوې وي. دا به په محدوده کچه هغو کارونو سره مرسته کوي چې له یوه CSO اداراتي وړتیا پیاوړې کولو کښې کومک کوي چې دا ډاډ ترلاسه شي دوی بیا پایښت موندلای شي او خپلو اغېزو کښې بهتري راوستلای شي. د دغه فنډنګ سیسټم موخه د پروګراماټیکو کارونو سره مالي کول نه دي.

**او/یا** درخواست ورکړئ:

### پروګراماټیک فنډنګ: سټریم 2 (USD $30,000 - $200,000)

دغه فنډنګ سټریم هغو پروژو سره مالي کومک کوي چې په ځانګړې توګه موخه یې د داسې پروګراماټیک کارونو فنډ کول وي چې بېځایه کېدلو ته اړایستل شوو ښځو او ځوانو مېرمنو د اقتصادي پیاوړتیا او مخکښنې لپاره وي او مطابقت لري

**د WPHF له اغېز سیمي 6 سره: بېځایه کېدلو ته اړایستل شوو ښځو او ځوانو مېرمنو تولنیز-اقتصادي پیاوړتیا، ګډون او مخکښنې کښې بهتري راوستل.**

لطفاً د چوکاټ د پایلي په هکله د لاربووني لپاره د WPHF د اشاري څرګندولو پاڼي ولولئ (سیکشن 9 لاندي) او ورسره د فنډنګ ستریم 1 او فنډنګ ستریم 2 جلا جلا د پروپوزل چوکاټونه کښې راغلي اشاري ولولئ.

## 6. د درخواست بسته او طريقي

درخواست ورکونکو ته پکارده چي فقط د WPHF لخوا وړاندي کړ سوي ټمپلټونه وکاروي. کوم اسناد چي په فهرست کښې یاد شوي له هغو پرته د نور عکسونه یا اضافي اسناد مه ورکوئ.

- ☐ د WPHF ټمپلټ (ضمیمه شوی، تر 10 زیاتي پاڼي نه لري، پرته له ضمیه A او ضمیمه B)
- ☐ د نتیجي فریم ورک (پروپوزل ټمپلټ انکس: A)
- ☐ د پروژې بودیجه (پروپوزل ټمپلټ انکس B)

او

- ☐ د معتبر قانوني رجستریشن یا د مخکښ سازمان د حیثیت ثبوت (که چېري تاسي د نوي کولو په بهیر کښې یاست، نو لطفاً ثبوت یي شریک کړئ)

د درخواست بسته باید تر 24 جون 2022 پوري د ایمیل له لاري واستول شي، په سبجیکټ یعني عنوان کښې یي ولیکئ "**WPHF Afghanistan Regional Response (او د موخي هیواد)** (د بېلګي په توګه افغانستان، پاکستان یا تاجیکستان)" ایمېل WPHFapplications@unwomen.org

**لطفاً په یاد لرئ:**

- درخواستونه په **انګرېزي، پښتو یا دري** ورکولای شئ. درخواستونه به فقط په دغو ژبو کښې منل کېږي.
- درخواستونه په doc, docx, یا pdf فارمټ کښې ورکولای شئ.
- د قانوني رجستریشن درخواستونه په jpeg, doc, docx, یا pdf فارمټ ورکولای شئ.
- ټول اسناد باید یوځای په یوې بستي کښې تحویل کړئ.
- کله چي خپل درخواست تحویل کړئ نو بیا باید بدلونونه مه پکښې کوئ.
- نامکمل درخواستونه، یا د مختلف فارمټونه به تر غور لاندي نه نیول کېږي.
- لطفاً خپل درخواست دوباره مه لېږئ پرته له هغه که چېري تاسي تر درېبو روځو پوري د تصدیق رسید نه وي ترلاسه کړی.

## 7. د پروپوزلونو د بلني په هکله د نورو معلوماتو ترلاسه کول

له ممکنه درخواست ورکونکو سره به پر ځایي کچه غونډي نیول کېږي. **د خپلي دلچسپي د راجستر کولو لپاره لطفاً و یو اېن ویمن کنټري افیس ته تر 8 مي 2022 پوري یو ایمېل وروليږئ چي سبجيکټ يعني عنوان يي وي "Information Session Afghanistan Regional Response"**

- د افغانستان معلوماتي غونډي کښې د راجستر کولو لپاره لطفاً دلته ایمېل ولئږئ evawg.afg@unwomen.org
- د پاکستان په هکله معلوماتي غونډي کښې د راجستر لپاره لطفاً دلته ایمېل ولېږئ anum.aftab@unwomen.org
- د تاجیکستان په هکله معلوماتي غونډي کښې د راجستر لپاره لطفاً دلته ایمېل ولېږئ tjkpp@unwomen.org

**د پروپوزلونه لپاره د دغي بلني په هکله پوښتني د یو اېن ویمن کنټری افیس ته پر لاندینیو ایمېل ادرسونو وروليږئ، خو چي تر 26 مي 2022 و نه ځنډيږي.** لطفاً د هرې پوښتني د ځواب لپاره کم ترکمه 48 ساعتونه انتظار وکړئ.

- افغانستان: evawg.afg@unwomen.org
- پاکستان: anum.aftab@unwomen.org
- تاجیکستان: tjkpp@unwomen.org

## 8. د ارزونې کچ مېچه

چې خپل پروپوزل لیکئ نو په پام کښې ونیسئ چې پروپوزلونه به په لاندینۍ کچ مېچې ارزول کېږي:

| د اداراتي فنډنګ ارزونې کچ مېچه (سټریم 1) | د پروګراماتیک فنډنګ ارزونې کچ مېچه (سټریم 2) |
| --- | --- |
| **د پروژې موخې:**<br>☐ د WPHF د بدلون له نظریې سره سمون، په تېره بیا د اداراتي وړتیا جوړونه<br>☐ د سازمان د تجربې ښه څرګندونه او دا دلیل چې اوسنی کړکېچ یې څرنګه پر اداراتي او مالي وړتیا باندې اغېزه کوي. د سازمان موخه باید هغه افغانې ښځې او نجونې وي چې بې ځایه کېدلو ته اړایستل شوې دي، د د پروژو کارونه یې باید داسې وي چې مخکښې یې د هغو افغانو ښځو او ځوانو مېرمنو لخوا کېږي چې بې ځایه کېدلو ته اړایستل شوې دي او/یا یې باید عمله له بې ځایه شویو ښځو او نجونو جوړه وي.<br>☐ د څرګندو موخو تعریف او د متوقع نتایجو او پایلو توجه یې باید د CSOs اداراتي وړتیا ته وي او دا چې څرنګه به سازمان پایښت مومي<br>د خطرونو په ګوته کول او د راکمولو لپاره مناسب اقدامات | **د پروژې موخې:**<br>☐ د WPHF د بدلون تیورئ سره سمون او په تېره بیا د هغه د پایلو په چوکاټ کښې د ځانګړې اغېزې په تړاو<br>☐ د څرګندو موخو،پایلو او نتایجو تعریف چې د جنسیتي غبرګون په اړوند د بهترینو کړنو په حساب کښې راځي. بې ځایه شوي افغانو ښځو او نجونو ته دې د پروژې له کارونو هرومرو ګټه ورسېږي.<br>☐ د هغو ګروپونو ګډون یقیني کول چې له بېلابېلو توپیري چلندونو سره مخامخ وي، لکه هغه نستې، نژاد، معلولیت، عمر، سیمه، کډوالي او نور چې په څرګنده توګه له 2030 اجندا سره سمون لري چې هیڅوک به ترشا نه پرېښودل کېږي.<br>☐ شراکت او/یا د ځایي ښځینه سازمانونو وړتیا جوړول چې برنامې کامیابۍ ته ورسوي. د ګډو پروژو په ټینګار سره هڅونه کېږي.<br>له نورو فنډونو او پروګرامونو سره بشپړونکی سمون |
| **بودیجه**<br>☐ بودیجه باید په ټولو اسنادو او جزیاتو کښې یورنګ وي د چوکاټ له پایلو سره سمه<br>☐ په بودیجې کښې غیرمستقیم کاري لګښتونه شامل دي تر هغې کچې چې اجازه یې وي (تر 7% زیات نه)<br>بودیجه هغو کارونو لره بس او معقوله ده چې وړاندیز یې شوی وي او د ستونزو کچه په پام کښې نیسي. | **د پروګرام سمبالښت او څارنه**<br>☐ د خطراتو په جامع توګه پېژندنه او د راکمولو لپاره یې مناسب ګامونه اخیستل<br>☐ د کارونو معقول مهالویش او د ترسره کولو کړنلاره چې موخې په ټاکل شوي وخت کښې ترلاسه شي.<br>د اړوندې او مناسبې څارنې او ارزونې تګلارې چې د پایلو پر چوکاټ او اشارو باندې ولاړې وي. |
| | **پایښت او ملي مالکیت**<br>☐ د کارونو په هکله ځایي او ملي مالکیت ته وده ورکول، او داسې ځانګړې موخې چې د ملي او ځایي کارکونکو وړتیا ورغوي.<br>☐ د مالي کومک تر مودې وروسته د پروګرام پایښت او (چېرته چې تطبیقېږي)، د هغه له سره نوی کول او له وخت سره بهتري پکښې راوستل. |
| | **بودیجه**<br>☐ بودیجه باید په ټولو اسنادو او جزیاتو کښې یورنګ وي د چوکاټ له پایلو سره سمه |

| د اداراتي فنډنګ ارزوني کچ مېچه (ستريم 1) | د پروګراماتيک فنډنګ ارزوني کچ مېچه (ستريم 2) |
|---|---|
| | ☐ په بوديجي کښي غيرمستقيم کاري لګښتونه شامل دي تر هغي کچي چي اجازه يي وي (تر 7% زيات نه)<br>بوديجه هغو کارونو لره بس او معقوله ده چي وړانديز يي شوی وي او د ستونزو کچه په پام کښي نيسي. |

د پروسي د غوراوي او تطبيق په هکله نور جزيات د يونايټډ نېشنز ويمنز پيس اينډ هيومنټېرين فنډ په [Operations Manual](#) کښي مونډلای شئ.

## 9. ګټه وري سرچيني

- د WPHF وېب پاڼه www.wphfund.org
- Indicator Tip Sheet (Impact Area 1: Institutional Funding)
- Indicator Tip Sheet (Impact Area 6: Programmatic Funding)
- Results Based Management Capacity Building Webinar
- د ويمنز پيس اينډ هيومنټېرين فنډ Operations Manual
- ايم اينډ اي او د پايلو پر بنسټ د سمبالښت شرايط. د OECD/DAC د ارزوني کليدي شرايطو لغات په انګرېزي، فرانسوي او هسپانوي کښي. http://www.oecd.org/dataoecd/29/21/2754804.pdf

## ضميمه 1: د يونايټډ نېشنز ويمن پيس اينډ هيومينټېرين فنډ (WPHF) او ايکشن نيټورک ان فورسډ ډسپليسمينټ په هکله

**د يونايټډ نېشنز ويمن پيس اينډ هيومينټېرين فنډ (WPHF) په هکله**

د United Nations Women's Peace and Humanitarian Fund (WPHF) د امن او خونديتوب په بهيرونو او بشري غبرګون کښي د ښځو ګډون، مخکښي او پياوړتيا ته په مالي کومک کښي څرګند زياتوالی راولي. WPHF يو نرم اوښتونکی او چټک مالي ميکانيزم دی. دا له هغو مداخلتونو سره کومک کوي چي موخه يي د ځآيي ښځو وړتيا زياتول دي چي د جګړي مخنيوی وکړي کړکېچ او بېړني حالت ته غبرګون ووايي، او د امن راوستلو له کليدي فرصتونو څخه ګټه واخلي. د WPHF د بدلون د تيورئ لويه موخه دا ده چي په **پرامنه او د جنسيتي برابرئ تولني جوړولو** کښي برخه واخلي. د دغي موخي ترلاسه کولو لپاره به دا اړينه وي چي ښځي د ګډون کولو او برخي اخيستلو وس ولري، او د جګړي مخنيوی کولو، کړکېچ ته غبرګون ويلو، سوله راوستلو او رغولو څخه ګټه واخلي. په 2016 کښي له خپل پيل څخه راهيسته، WPHF له 450 مدني ټولني سازمانونو سره مرسته کړي ده او په 26 هېوادونو يا د هېوادونو ګروپونو کښي شته.

په جهاني کچه د WPHF واک د يوه داسي فنډنګ بورډ په لاس کښي دی، چي د ملګرو ملتونو له څلورو ادارو (اوس مهال يو ين ويمن، يو اين ايچ سی ار، يواين ايف اي او يو ين ډي پي او) او څلورو ډونرو غړيو هېوادونو (اوس مهال ناروې، جرمني، سوېډن او اوتريش) او همدا راز له څلورو مدني ټولني سازمانونو (فېمنيسټ هيومېنټېرين نيټورک، کنيوا تيل کنبوا، ايکشن ايډ او ويمن رېفيوجي کميشن) څخه جوړ دی. سيمه ايز رېفيوجي سټيرينګ کمېټي به د هغو پروپوزلونو له لېست څخه پروژه غوره کوي چي تر تېخنيکي ارزوني تېر شوي او منل شوي وي.

**د زورکي بېځايه کولو د ايکشن نيټورک په هکله**

[Action Network on Forced Displacement – Women as Agents of Change](#) په اکتوبر 2020 کښي د جرمني د فيډرالي وزارت لپاره د اقتصادي همکارئ او پراختيا (BMZ) لخوا ورغول شو. موخه يي دا ده چي ښځي او نجوني نوري راښکاره شي او د بېځايه کېدلو ته اړايستل شويو په ادارو کښي د کارمندانو په توګه خپل اواز ولري او چي له خپلو حقونو ترلاسه کولو سره سره ددوی اقتصادي او ټولنيز ګډون هم پياوړی سي. ايکشن نيټورک ښځي او نجوني وله نيژدې کوي او هم دا راز هغه سرپيان او هلکان چي په فعاله توګه له بې ځايه شويو ښځو او نجونو سره کار کوي. په دې کښي د سياسي، اقتصادي پرېکړه کونکي او ټولنيزو فعالان شامل دي او پخپله هغه ښځي او نجوني چي د جګړي او کړکېچ په ځايونو کښي پروژې تطبيقوي. د ايکشن نيټورک موخه دا ده چي د ښځو د مخکښئ او اقتصادي ګډون لپاره او د بېځايه شويو ښځو او نجونو د رواني روغتيا د ښېګړي لپاره ښه ښه اغېزناک کارونه په ګوته کړي. د ايکشن نيټورک غړي په

پرلپسې توګه وله راتوليږي چي پاليسي جوړونکو، مدني ټولني او ځايي فعالانو لپاره پر ښو کارونو باندي غور وکړي او سپارښتني ورته وکړي چي د پاليسۍ بهيرونه اګاه وساتي. دغه د پروپوزلونو بلنه په اېکشن نېټورک او هغو مدني فعالانو پوري تړاو لري چي د همدغي بلني لخوا غوره کړ شوي دي او د نېټورک په اړوندو کارونو کښي کېږي او همداراز د نېټورک له غړيو سره د مېټارشپ پروګرام يعني د مشرۍ برنامي کښي د ګډون کولو بلنه به ورکول کېږي.

## ضميمه 2: تر پروګراماتيک فنډنګ ستريم لاندي پروژو لپاره هغه د لومړيتو موضوعات چي وړانديز يي شوی دی

د پروژو لپاره د وړانديز شويو موضوعاتو فهرست پر هغو لومړيتوبونو ولاړ دی چي د زورکي ښځايه کولو د اېکشن نېټورک د غړيو لخوا په ګوته کړ شوي دي. دغه فهرست ډېر پراخ نه دی، او ګرانټ اخيستونکي هڅول کېږي چي نور داسي وړانديزونه هم وکړي کوم چي د پروپوزلونو د دغي بلني له موخو سره اړخ لګوي.

| د اېکشن نېټورک لخوا وړانديزونه |
| --- |
| **سکالو 1: د ښځايه شويو ښځو او نجونو مخکښي او ګډون** |
| - له ښځايه شويو ښځو او نجونو سره مرسته کول چي ځايي موجوده ډيفيکټو مقامات/حکومت يا ځايي دولتي ساختار، د ملګرو ملتونو سيسټم، او غړيو هيوادونو ته لاسرسی ومومي.<br>- حکومت/ډيفيکټو چارواکي مسول وګني چي جنسيتي برابرۍ ته وده ورکړي او د خپل قانون او تګلارو په چوکاټ کښي د ښځايو شويو ښځو او نجونو حقونو ته ځای ورکړي<br>- تيخنکي مشوره ورکړي او بې ځايه شويو ښځو، نجونو، فعالانو، او CSO ته اسانتيا برابره کړي چي په ولس کښي د هغو مغزن ګډون سره کومک وکړي<br>- د هغو ښځينه فعالانو، ځايي سازمانونو او وکيلانو د خونديتوب غم وخوري چي د زورکي ښځای شويو لپاره کار کوي<br>- عدالت (رسمي او غيررسمي) ته د ښځو لاسرسی يقيني کول په شمول د قانوني/نيمه قانوني خدماتو او مشورې او په عدالتي بهيرونو کښي جنډر يعني جنسيتي برابرۍ ته وده ورکول |
| **سکالو 2: د ښځايه شويو ښځو او نجونو اقتصادي پياوړتيا** |
| - مالي خدماتو، بانکی خدماتو، پور او نقد ته د ښځايه شويو ښځو او ځوانو ښځو لاسرسي لره اسانتيا پيدا کول، او هغه پوراز ستونزو ته پام کول لکه په يوازي سر د کورنۍ مشري کول، د معلوليت ژوند وغيره.<br>- اقتصادي سرچينو، مشري، مسلکي روزني او حرفوي کارونو ته د لاسرسي لپاره له ښځايه شويو ښځو او نجونو سره کومک<br>- کومي ښځايه شوي ښځي او ځواني مېرمني چي د بزنس پروژې لري هغو ته مشوره ورکول<br>- د ښځايه شويو ښځو او نجونو اقتصادي حقونه خوندي کول<br>- له ښځايه شويو ښځو او ځوانو مېرمنو سره کومک کول چي ډيجيټلي الاتو او سامانونو ته لاسرسی پيدا کړي او همداراز چي اينټرنېټ ته لاره ومومي چي د کاروبار لپاره ورڅخه ګټه واخلي<br>- د ټولنيزې- اقتصادي پياوړتيا له لاري د ښځايه شويو ښځو او نجونو د بلوسي، استحصال او انساني کاچاک مخنيوی کول |
| **سکالو 3: د ښځايه شويو ښځو او نجونو اړيکي، تجربي شريکول او يوځای کېدل** |
| - په خپلو کوربنو ولسونو کښي د ښځايه شويو ښځو او نجونو پيوستون او اړيکو ته وده ورکول<br>- د ښځايه شويو ښځو او نجونو او د کوربنو ولسونو ټولنيزو عادتونو کښي بدلون ته وده ورکول – لکه، د کامياب تجربو شريکولو له لاري خواخوږۍ او کومک ته وده ورکول<br>- د ښځايه شويو ښځو او نجونو تجربه شريکولو ته وده ورکول چي هغوی خپلواکي او پياوړي سي<br>- د ښځايه شويو ښځو او نجونو او همدارازد کوربنو ولسونو اواز او کيسي اورېدل<br>- په پراخه ولسي کچه هغو نوښتونو سره مرسته کول چي د ښځايه شويو ښځو او نجونو لپاره کار کوي، د هغو ترمنځ ملګرتيا جوړوي او همداراز يي له نړۍ والو ښځينه سازمانونو سره اړيکي ورجوړوي<br>- په پراخه کچه ولسي نوښتونو او ښځايه شويو او نجونو سره مرسته کول چي د دوی د ټولنيزو او اقتصادي حقونو لپاره کار کوي<br>- له ښځايه ښځو او نجونو سره مرسته کول چي هغوی خپل د مدني ټولني سازمانونه جوړ کړي |